مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقیري

۲۰۱۹/۰۱/۱۷

# ملي هنداري ته یوه سیاسي او اجتماعي کتنه

## د عبرت سیاسي درسونه (۲)

موسی جان او ولي جان:
ظلم پای نه لري، او ظالم نامرده او ډارن وي

د نکل اناټومي:

د موسی جان او ولي جان داستان د ملي هنداري له مهمو سیاسي او اجتماعي نکلونو څخه دئ. دا نکل اوږد دئ، څو مهم کرکټره لري، نو لهذا لنډیز هم څه اوږد دئ. پدې وخت کې، سهېل پاچا دئ. هغه یو فاسد، بې ناموسه، او نامرده پاچا دئ. ځلوبښت ښځې لري، خو مدام د خپل ارګ په برجونو کې ناست وي او د خلګو کورونو ته په دوربین کې ګوري. ښکلي پېغلې او مروښې ښځې په نښه کوي، او په زور او جبر ئې غواړي. سهېل یو غدار، رشوتخوره، او ډارن حاکم هم دئ.

د سهېل په ریاست کې دوه سوداګر او دولتمن ورونه - فېروز او نوروز - ژوند کوي. یوه ورځ، سهېل د فېروز کورته دوربین وراچوي، او د هغه ښایسته لور ببۍ، چې سترګې نه پر رونیږي، ویني. سمدستي سهېل مرکه وراستوي. د ببۍ کورنۍ مخالفت او جنه جنه کوي، خو سهېل هغوی په مرګ تهدیدوي، او بالاخره هغه ترلاسه کوي.

پدې وخت کې، د فېروز او نوروز د مېرمنو دوه نور ماشومان —— موسی جان او ګلمکۍ —— پیدا کېږي. د داوړو نکاح په کوچینوالي کې کېږي. دوی غټیږي، او قلبي مینه ئې لا سره زیاتیږي. څه موده وروسته، دواړه پلرونه مري. موسی جان غواړي چې ګلمکۍ ور واده کړي، خو د ګلمکۍ مور او خویندې مخالفت کوي. او وایي،«د مړه خبره په مړه پسې ولاړه.» هغوی پوره ولور غواړي، او «که نه وي، نه سره رسیږي.» څه وخت وروسته، موسی جان د خپلې ماینې د راوستلو هڅه بیا کوي، خو د ګلمکۍ مور او خوندې بیا ولور ترې غواړي. موسی جان غیرتي او باناموسه ځوان دئ، او نه غواړي چې خپله د اکا لور «په زوره د ښځو» څخه راوباسي. بس، طبیعت ئې خته کېږي، وطن خوشې کوي. په بل ملک کې ګوروان کېږي. هلته د یو ملنګ سره اشنا کېږي، او د رباب ږغول ترې زده کوي. په رباب وهلو کې پوخ ماهر او استاد ترې جوړیږي.

موسی جان که څه هم په یوې بورژوا کورنۍ کې پیدا سوي دئ، او نور ټول ورڼه ئې تجارت کوي، خو «دی هیڅ نه کوي، یوه خاشه پر بله نه ایږدي.». موسی جان مجلسي او د موسقي شوقي دئ. زیات یاران لري. خپل ټول ثروت خوري، او بالاخره لڅ لېر کېږي. د پلار تر مرګ راوروسته، موسی جان او نور اووه ورونه یې وېش سره کوي د داستان بل اتل ولي جان نومیږي. ولي جان یو تورزن او پهلوان دئ. په منځنۍ طبقې پوري اړه لري. د ولي جان او یو بل دولتمن سړي پر مځکه دعوه کېږي. ولي جان سهېل باچا ته عرض کوي. خو سهېل د ولي جان پر خلاف قضاوت کوي، «که څه هم باچا په خبر وو چې حق د ولي جان په جانب دئ.» د ولي جان حریف د سهېل مامورینو او درباریانو ته رشوت ورکوي. د سهېل همدا ظالمانه قضاوت د ولي جان طبیعت ور خته کوي، او د ځان سره وایي،«خیر، زه به هم خپل واري ته ګورم.»

خیر په هر صورت، زماني تېرې تېریږي، یو وخت د پسرلي په موسم کې د سهېل باچا ۴۰ ماینې او مشره ملکه، ببۍ، د سېل او هوا خوري لپاره دښتونو ته وځي. پدې وخت کې ولي جان په ښکار راوتلی دئ، او نابېره د سهېل پر ښځو برابریږي. ولي جان وخت «غنیمت» ګڼي، او مشره ملکه برمته کوي. د سهېل طبیعت ډېر خرابیږي، ځکه له یوې خوا یې ښایسته ماینه ورکیږي، او بل د دې کار «بدنامي» ئې زهبروي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سمدستي د سهېل باچا د جاسوسی دستګاه فعاله کېږي، او د ګلمکۍ څرک لګوي. ګلمکۍ داسي ښاپسته ده چي په غاړه کي يې اوبه معلومېږي. که څه هم ګلمکۍ د موسی جان په نکاح ده، او کورنۍ ئې سهېل ته وايي چي پدې کار مو «غاړي بندېږي،» خو سهېل ورته وايي خدای خبر چي موسی جان مړ دئ او که ژوندی. «که بالفرض راغی، زه به ښه ښځه ور وغواړم.» خو ګلمکۍ پر موسی جان مينه ده. يوه پېښته او باوفا پېغله ده، او نه غواړي چي د سهېل سره واده وکړي. خو بالاخره سهېل د ټولو افغاني او اسلامي قوانينو پر خلاف ګلمکۍ خپل ارګ ته بيايي. ګلمکۍ د خود کشۍ تهديد کوي، او د وخت د تېرو په مقصد داسي مشکل شرايط ږدي چي د سهېل هيڅ پهلوان او ښکاري ئې نه سي تر سره کولای.
پدې وخت کي، موسی جان پدې کيسه خبرېږي. ګوروانی خوشي کوي، او د ولي جان سره د ورورۍ لاس ورکوي. ولي جان په سيمه کي مشهور بهادر او وتلی ښکاري دئ. څرنګه چي ببۍ د موسی جان د اکا لور ده، او اوس د ولي جان ښځه ده، د موسی جان او ولي جان ياري لا پخه کېږي، او دواړه د يو واحد دوښمن په مقابل کي متحده جبهه جوړوي. څرنګه چي د سهېل باچا ښکاريان د ګلمکۍ شرايط نه سي تر سره کولای، نو لهذا د سهېل استخبارات د موسی جان او ولي جان څرک لګوي، ځکه هغوی پدې سيمه کي تر ټولو پاخه او ماهر ښکاريان او پهلوانان دي. سهېل په اول سر کي د موسی جان او ولي جان د راوستلو لپاره څو تنه خشره عسکر وراستوي، خو ولي جان او موسی جان هغوی وژني، او يو کس ئې په تېښته بېرته ارګ ته ځان رسوي، او سهېل ته دا هم وايي چي ببۍ د ولي جان سره ده.
سهېل بل ځل د ولي جان او موسی جان د راوستلو لپاره مهر کړی قرآن شريف، سيدان او ملايان وراستوي. هغوی ته وايي:«ورسئ رضا يې کئ، را يې ولئ.» کله چي سيدان او ملايان د ولي جان او موسی جان کلا ته رسېږي، سمدستي قرآن مجيد د هغوی په غېږ کي ور اچوي، «هغو قرآن واخيست، مچ يې کی. نو يې ورته وويل چي څه نقل دی؟» هغوی د ګلمکۍ او سهېل بيان ورته کوي. ولي جان او موسی جان هغوی رخصتوي، او د ورتګ وعده ور سره کوي. خو د ولي جان اتله او هوښياره خور، تانو، د هغوی د ورتګ مخالفت کوي، او وايي،«د دښمن په قرآن او قسم باور نسته.» خو ولي جان او موسی جان د تانو مشوره نه مني، او د سبا له پېغور څخه بېرېږي. او هم نه غواړي چي د «ښځو تر پلو لاندي» پټ سي.
کله چي سهېل د داستان دا دوه قهرمانان په خپله ساحه او دام کي ويني، ډېر خوشحاله کېږي. د استقبال لپاره ئې خپله مخته وروزي، او په خپل ارګ کي ځای ورکوي. پدې ترڅ کي، ګلمکۍ د موسی جان په ورتګ خبرېږي. موسی جان د ګلمکۍ شرطونه کټي. خو کله چي ګلمکۍ خبره سي چي موسی جان او ولي جان بېرته د تلو نيت کړی دئ، هغه پيغام ور راستوي چي«مه ځي، زما ملېمانه ياست.» که څه هم ولي جان د پاته کېدو مخالفت کوي، خو موسی جان «عاشق» وو، «ويل يې زه پاتېږم. نه ځم.» دواړه د ګلمکۍ کره پټ مېلمانه سي.
سهېل باچا پدې جريان باندي خبرېږي. خو «د لاسه يې هم څه نه کېږي، ځکه ځيني بېرېږي.» سهېل پوهېږي چي که چيري هغوی ونيسي، ګلمکۍ خود کشي کوي. بل دا چي دواړه د وطن نامتو او مخور پهلوانان دي «خامخا نام بدي او لوی فسات پېښېږي.» بالاخره، د باچا مجلسيانو ورته وايي يوه « شيطانه او مکاره» بوډۍ پيدا کړه، او دواړه هيروګان په زهرو ووژنه. سهيل همدا خدعه کاروي، موسی جان بچېږي، خو ولي جان څه مسمومېږي. تر څه جنګ وروسته، ولي جان مري. موسی جان هم بالاخره د سهېل سره په يوه کي جنګ کي وژل کېږي. ګلمکۍ د موسی جان په زيارت کي له خدايه د مرګ خواست کوي، دعا ئې قبولېږي. د خپل مين سره يو ځای ښخېږي. د ملي هنداري په داستانونو کي د عاشقانو خواست تل قبولېږي.
څرنګه چي سهېل د ښاپسته نجونو په حاصلولو کي ناکامه کېږي، دا ځل تانو ته مرکه کوي. تانو زړوره او چټه پېغله ده، او داسي ښاپسته ده لکه اوم پېروی. تانو يې مرکه د خپل ورونو او وراره د غچ اخيستلو لپاره مني، او بالاخره د سهېل باچا سره تن په تن جنګېږي. که څه هم سهېل د ځان د خلاصون لپاره تانو ته زياتي «زاری» کوي، خو تانو همدا بې ننګه باچا وژني. وروسته تانو د يو «غريب» کس سره واده کوي، او د حکومت واک هغه ته ورسپاري.

## د عبرت سياسي درسونه:
## يو حاکم بايد تل د خلکو خصوصي ملکيت او ښځو ته احترام وکړي.

ماکياولي په خپل مشهور کتاب «شهزاده» کي ليکي،«اکثره خلک تر هغه وخت پوري اطاعت کوي تر څو ئې خصوصي ملکيت او عزت ته صدمه نه وي رسېدلې. عام خلک هله له يوه حاکم څخه کرکه پيدا کوي چي د هغوی خصوصي ملکيت او ښځو ته په بده سترګه وګوري. يو حاکم بايد لدې دواړو څخه پرهېز وکړي.» بل ځای وايي، «انسانان د خپل پلار مرګ هېرولای سي، خو خصوصي ملکيت ته ئې تاوان هيڅکله نه هېرېږي.»
سهېل باچا د ماکياولي لدې دواړو سپارښتونو څخه مدام سرغړونه کوي. کله چي د ولي جان او يو بل خان د ځمکي پر سر دعوه رامينځته کېږي، سهېل په ناحقه ولي جان ملامتوي، «که څه هم باچا په خبر وو چي حق د وليجان په جانب دئ.» د ولي جان مدعي د باچا سره «تيار» دئ، او د خپلي دعوا د ګټلو لپاره درباريانو ته رشوتونه ورکوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

د سهېل دا ښکاره ظلم پر ولي جان باندي ډېر ګران تماميږي، ځکه مشروع ملکيت ئې تري غصبيږي. بلخوا، د ولي جان لپاره دا يو ستر شرم او ننګ دئ، ځکه په زوره يې جايداد تري اخيستل کيږي. نو طبعا د باچا سره عقده پيدا کوي، او فيصله کوي، «خير، زه به هم خپل واري ته ګورم.» او کله چي ولي جان د پسرلي په موسم کي په يوه سمسور او زرغون دښت کي د سهېل باچا پر ښځو باندي برابريږي، وخت «غنيمت» ګڼی. ځکه زړه ئې له ډېره وخته پاچا ته «ډک» وو. نو لهذا، د باچا ګرانه ماينه پر آس په «زوره» سپره وي، او د ځان سره ئې يرغمل بيايي.
ابن خلدون په المقدمه کي ليکي د يوه حاکم له طرفه د خلګو پر خصوصي ملکيت باندي تجاوز په يوه ټولنه کي تجارت او د ثروت د پيداکولو انګېزه وژني. د ټولني امن خرابوي. حکومت او خلګ سره بېلوي. په جامعه کي بې قانوني او انارشي تقويه کوي. خلګ دېته مجبوره کوي چي له کاره لاس واخلي، او په ټولنه کي ثبات او اعتماد له مينځه وړي.
ابن خلدون وايي د سياسي حاکميت اصلي معنی او هدف دا دئ چي په ټولنه کي انصاف او عدالت قايم سي.
که څه هم سهېل باچا ځلوېښت ښځي لرلي، خو بيا هم تل په خپل قلمرو کي د ښايسته ښځو د پيدا کولو په لټه کي وي، او د دې کار لپاره خاص استخبارات لري. عموما د دې مقصد لپاره له « مکاري بودۍ» ښځه کار اخلي. سهېل دغه راز له دوربينه هم استفاده کوي، په اصطلاح له تيکنالوژۍ ښځه ناروا ګټه پورته کوي. د خپلو خلګو خصوصي حريم ته هيڅ درناوی نه کوي، او په اصطلاح د خلګو «پرايوسي» ته بې احترامي کوي. هغه تل د ارګ پر بام او برجونو کي ولاړ وي، او د خلګو کورونو ته په دوربين کي ګوري. د وطن خلګ مجبوره کيږي چي خپلي ښکلي ښځي او پيغلاني پټي کړي. د ګلمکۍ کورنۍ هغه په زيرخانه کي پټوي، او د هغې د مرګ دوراغجنه چوکچوکه ګډه وي، او حتی په درواغ ئې فاتحه هم اخلي.
سهېل په بې ناموسي کي دونه مخته ځي چي حتی مړوښي ښځي هم د ځان لپاره غواړي. کله چي سهېل د موسی جان ښځه ګلمکۍ په زوره بيايي، ګلمکۍ ورته وايي،«ما ته مه را تېرېږه، ځکه زه بل مېړه لرم.» ګلمکۍ ورته وايي چي يا د موسی جان د ژوند او مرګ احوال رامعلوم کړه چي ما ته «طلاق» راکړي، «يا زه ځان وژنم. زما ديد پر تا حرام دئ.»
پدې ترتيب، د سهېل ظلم او ناروا د وطن خلګ تري خوابدي کوي. ځکه کله چي موسی جان او ولي جان ئې دربار ته ورځي، هغه غواړي چي دا دوه کسان مړه کړي خو د خلګو له عکس العمل ښځه ببريږي. ځکه دواړه د هيواد محبوب پهلوانان دي، او د ځان سره وايي که دوی ووژنم، «خامخا نام بدی او لوی فسات پېښيږي.»
سهېل د خپل رعيت د ښځو په برخه کي دونه متجاوز دئ چي کله موسی جان او ولي جان دواړه مړه سي. سهېل د ولي جان شجاع او هوښياري خور، تانو، ته مرګه ورلېږي، ځکه «پر هغې مين هم وو.». تانو داسي ښکلې ده چي وړور پر مينيږي، او ګل پر مبتلي. تانو پوهيږي چي د خپل ورور، وراره، او موسی جان د انتقام اخيستلو لپاره ښه فرصت په لاس ورغلی دئ. نو لهذا، تانو د سهېل مرګه مني. تانو د د سهېل مرکي ته وايي،«سهېلې ته وواياست چي درېيمه ورځ زموږ و ستاسي سره وعده ده. درېيمه ورځ به راسي. درب و دروب مه جوړوه. په پټه خوله به خپله نکاح سره وتړو.»
په همدې دريو ورځو کي تانو د خپل کور ټولو ښځو ته نظامي تمرينات ورکوي. توري او سپرونه ور وېشي. د جنګ، تهاجم، او دفاع چلونه ورښيي. ټولو ښځو ته وايي،«چي سهېل راسي هوښ کوئ چي ژوندی در ښخه ولاړ نه سي. زموږ نارينه ئې توله مړه کړه، اوس ئې موږ ته ننګلي دي، او په سپيتانه او چم به يې هم نه وژنو چي بيا مو نوم بد نه سي.»

## د عبرت بل مهم سياسي درس:
## په حاکمه طبقې کي يو مهم ژور سياسي بدلون:

د موسی جان او ولي جان د نکل يو سياسي اړخ دا دئ چي په وروستي پړاو کي کله چي تانو او ښځينه ملګري ئې سهېل مړ کړي، د وطن په سياسي حاکميت کي يو ژور بدلون راځي. د داستان له روح او بيانه داسي ښکاري چي پخواني حاکمان او ټاپ کسان له قدرته پسي اخيستل کيږي، ځکه د داستان قهرمانه تانو يو «غريب» کس پر «حکومت» کښينوي. پدې ستر سياسي بدلون کي، يوه مهمه مسله دا ده چي اول تانو په اصطلاح «کينګ ميکره» ده. مانا تانو دونه قدرت لري چي پخپله خوښه يو څوک د آينده حکومت مشر کوي. د هغې په پدې تصميم کي هيڅوک مداخله نه کوي، بلکي هغه په يوازي سر دا مهمه او حياتي فيصله کوي.
بله د پام وړ موضوع دا ده چي نوی حاکم يو «غريب» کس دئ. حتی دونه بې نومه او نښانه دئ چي راوي ئې نوم قدري هم نه يادوي. صرف دونه راته وي چي هغه غريب شخص دئ. مانا د ټولني په محروم کلاس پوري اړه لري.
د پخوانيو ارستوکراټانو له ټل ښخه نه دئ. لدې مهم سياسي او اجتماعي بدلون راوروسته، د نکل له آخري جملي ښخه داسي ښکاري چي وروسته په وطن کي سوله او امن تامينيږي، «دا سړی يې مېړه کی، پر حکومت يې کښېناوه، سره ببغمه سوه.» دلته «سره ببغمه سوه» دا راته ښيي چي ملک لدې شخړو را وروسته آراميږي. جنګونه او سياسي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لګه درګه ختمه سوه، او د وطن خلګ همدا نوی کس د خپل مشروع مشر په حیث مني. بالاخره د قدرت د نیولو لپاره سیاسي رقابت، کشمکش، جنګونه او ورور وژنه ختمیږي.

### د عبرت اجتماعي درسونه:

د موسی جان او ولي جان نکل د حاکمي او بورژوا طبقي حالات بیانوي. موسی جان په یوې تجاري کورنۍ کي پيدا سوی دئ، او ولي جان یو مرفه زمیندار دئ. د دې داستان مناسبات زیاتره د حاکم کلاس مشکلات بیانوي، او د ښکتي طبقي د مشکلاتو او مسایلو په باب څه نه وايي. د داستان ټول اتلان او اتلاني د لوړي طبقي خلګ دي.

### د عبرت اجتماعي درس:
### د موسی جان او ولي جان په نکل کی د میرمنو رول

لکه څنګه چي مو مخکي اشاره ورته وکړه د موسی جان او ولي جان نکل پر ناموس او خصوصي ملکيت باندي راڅرخي، او د یو ناروا باچا پر ظلم او بې ناموسیو باندي متمرکز دئ. پدې داستان کي دا ښودل کیږي چي یو نامرده باچا نه یوازي خپل ځان او ریاست خرابوي، بلکي د ځو کورنیو او ځوانانو ژوند هم تباه کوي. د خونړي جنګونو سبب ګرځي، او په ټولنه کي د هرج و مرج او انارشي باعث ګرځي.
د سهېل د شهوت څرګنده قرباني د موسی جان کورنۍ ده. کله چي سهېل د موسی جان د اکا لور، ببۍ، په دروبين کي ويني چي په خپل کور کي وربښتان ږمونځوي، سهېل سمدستي پر ګرمیږي، او د حاصلولو لپاره ئې کوښښ پېلوي. که څه هم ببۍ نه غواړي چي د سهېل سره واده وکړي، خو ناروا سهېل د مرګ تهديد کوي. همدا سبب دئ چي له داستانه ښکاري چي ببۍ پدې واده او وصلت نه ده خوشحاله. کله چي د ولي جان سره واده کوي، تر پايه د هغه سره پاته کیږي. ولي جان سخت باندي ګران وي. او بالاخره د سهېل په وژلو کي د تانو سره ښېړه مرسته کوي.
د ملي هنداري د داستانونو په جنګونو کي د ښځینتي میرمنو شرکت یوه عامه پديده ده. خو د موسی جان او ولي جان په نکل کي د ښځو ونډه ډېره بارزه ده. او داسي ښکاري چي د نکل راوي د ښځو سره نهايت زياته خواخوږي او سمپتي لري. ځکه پدې داستان کي، سهېل یو شهوت پاله، بې ناموسه، او ظالم باچا ښودل کیږي، خو د نکل ښځینه هېروګاني باوفا، شجاع، او سپېڅلي ښځینتي معرفي کیږي.
د دې داستان بل اجتماعي او نظامي اړخ دا دئ چي د ولي جان او موسی جان د کور ښځي د یوې مرګانی معرکي لپاره پوره نظامي ترتيبات نيسي. ټولي ښځي د تانو تر قومندې لاندي نظامي تمرينات او روزنه ويني. هغوی د تن په تن جنګ لپاره ټرېنګ کوي، او د توري او سپر د کارولو تمرين کوي. تانو ورته وايي، «هر څه چي ما کول هغه به تاسي کوئ!» پدې افسانوي معرکه کي تانو، د ولي جان ماينه، د میر ولي ماينه، او دوې درې نوري مینځياني شاملي دي.
د داستان په آخر کي، د سهېل مرګ نهايت عبرتناکه دئ. ځکه د نکل راوي سهېل او یوه مظلومه مګر سپېڅلي او شجاع ښځینته تن په تن په جنګ سره ورولي. د نکل په وروستي پړاو کي، کله چي سهېل د تانو کور ته ورزي. باچا ښه ځان تيار کړی وي. حمام ئې نيولي وي. ښې د پاچاهي جامې اغوستي وي. خو تر ډوډۍ خوړولو راوروسته، تانو سمدستي توره او سپر رااخلي، او د سهېل مخته يې ايږدي. او ورته وايي،«دغه دي توره دغه دي سپر دئ! زما وراره او ورونه دي وژلي دي. اوس نو زما وار دئ. يا به دي مړ کم، يا به مي مړه کې.» پدې وخت کي تانو پر نامرده او ډارن سهېل باندي ناره کوي:

**سهېليه توره اخله راولاړېږه! سهېليه د ښځي خيال راباندي مه کړه!**
**سهېليه ښځه نه يم مه شرمېږه.**

د تانو په دې حماسه يي او له مروته ډک حرکت کي ځو مهم ټکي پراته دئ. لومړی دا چي تانو پر سهېل باندي نابېره حمله نه کوي، بلکي لومړی خبرداری ورکوي. د مبارزې ميدان ته ئې رابولي، او د یوې شجاع افغان میرمن په شان سهېل ته توره او سپر ورکوي. مانا جنګ منصفانه او برابر دئ. دواړي خواوي په يو رقم وسلو سمبال دي. هیڅوک پر بل چا باندي تسليحاتي برتري نه لري. بل دا چي قهرمانه تانو ورته وايي،«سهېليه د ښځي خيال راباندي مه کړه!» او «سهېليه ښځه نه يم مه شرمېږه.» دلته تانو د سهېل میړانه ور چنلچوي. هغه ته وايي چي شرمېږه مه، ستا جنګ او مقابله د يوې سيالي ښځينتي سره ده. پدې تن په تن معرکه کي، د سهېل میړانه چنلچيږي، او هغه بې همته معرفي کیږي.
کله چي ډارن سهېل د زمری تانو خوني سترګو ته ګوري، سمدستي يي تانګونه سستيږي، همت له لاسه ورکوي، او زاری او جګی ورته کوي. خو تانو د سهېل ننواتي او عذر نه مني، ځو بالاخره سهېل ناچاره کيږی، او توره راخلي او تن په تن جنګ شروع کيږي. تانو داسي کاري ګوزار ور باندي کوي چي سهېل دوه ځايه کيږي، او د يوه بې ننګه او بې ناموسه باچا حيواني ژوند ختميږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

د همدې معرکې بله مهمه موضوع دا ده چي سهېل حتی په مرګ کي هم بې آبه کېږي. څکه تانو او ښځينه ملګري ئې د سهېل جسد ټوټه ټوټه کوي، او په جوال کي يې اچوي. د سهېل د جسد ټوټې د هغه پر ډارونو او بې همته سردارنو باندي وېشي. د سهېل ملګري سرداران چي د خپل پاچا پرې کړې ککرۍ پر ميدان باندي ويني، سخت وارخطا کېږي. خو تانو او ملګري ئې پر هغوی باندي هم بريد ښخوي. ځيني سرداران مړه کوي. څوک په تاخته او منډه ځان ژغوري، او څوک په زاريو، ننواتو، او توبو باندي ځان خلاصوي.
دلته د سهېل او سردارانو دا ډول مرګ او بې عزتي دا ښيي چي د داستان د راوي زړه سهېل ته سخت خوړين دئ. رواي هڅه کوي چي په هر شکل چي وي د سهېل بې همتي رابرسېره کړي، او يو بې عزته مرګ ور په نصيب کړي. په ښځو ئې ووژني، او غوښې او هډوکي ئې په جوال کي واچوي.
دغه راز، کله چي سهېل د موسی جان په جنګ ورځي، د داستان راوي په سهېل د ګلمکۍ کالي اغوندي. د هغې پوړني ور پر سروي. سهېل د ښځو په جامه پټ «خنجر او پېشکوزه» ورسره راخيستي، او پداسي حال کي پر موسی جان باندي حمله کوي چي موسی جان د ګلمکۍ خيال باندي کوي، او په غېږ پوري ئې کلک نيسي. خو سهېل په همدې حالت موسی جان په جنجر وهي، او وژني يې. د سهېل باچا داسي ذلت او نامردي د هغه د حيواني فطرت نمايندهګي کوي، او د داستان راوي په هر شکل د سهېل ذلالت او بې همتي رابرسېره کوي.
او بالاخره، پدې داستان کي دا هم ښودل کېږي چي ظالمان عموما ډارن او نامرده وي. کله چې تر تهديد لاندي سي، زارۍ او جګۍ کوي. د جنګ په ميدان کي عموما تښتي، او د ځان د خلاصون لپاره له ښځو څخه د امان خواست کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ